مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۶/۱۰/۲۸

# نثر لیکل

یوه ورځ مې له مرشد ملګري (ن. ندرت) سره بحث کاوه چې په نړۍ کې تر ټولو ښه لیکوالان باید په ځپلو هېوادونو کې وای. هغه وخندل، وای: خبره دې تر ډېره درسته ده.
ما د وضاحت په خاطر هندوستان ور مخکې کړ: هند زما لپاره ټوله نړۍ ده. کوم مذهبونه چې نورې نړۍ کې شته هغه هندوستان کې هم شته. ژبې، کلتورونه، عنعنات او نور هر څه یې هم په دې حساب در واخله. هلته که امباني د خپل زوی په واده میلیونونه مصرفولی شي، نو یو عام اطرافي هندی د خپلو ۴ خویندو د جهیز نه پوره کېدلو له امله ځان وژنه هم کولی شي. که یو تن پکې ۲ کیلو سره زر په غاړه کرځوي، بلې یې لوڅه غاړه په پیاده رو ویده کیږي.
که یو پکې د مذهبي جنونیت له امله د غوا میتیازې ښښلی شي، نو بل د همدغو خرافاتو په اړه د (PK) غونډې فلم هم جوړلی شي.
که په هره برخه کې یو مثال وایم نو دا کیسه به بیخي اوږده شي. خپل هېواد ته به راشو، زموږ ټولنه د لسیزو جګړو په هر لحاظ ښه سمه ځېلې ده، دلته که یو ادیب لږ هم خلاق وي او د تخلیق کړې ارواح سترګې بینا وساتي له ارواپې، ټولنیز، تاریخي، سیاسي، مذهبي او... اړخونو څخه شاهکار اثار پنځولی شي. دا موضوع یوازې په ناول تمامه نه ده، بلکې هر ادبي صنف او ژانر ته راجع ده. د خبرې د تائید مثالونه ۵۰ ـ ۱۰۰ کاله پخوا د پښتو ژبې په ادبیاتو او تاریخ کې موندلی شي. ولې مو هلته علامه حبیبي، شهید مجروح، استاذ الفت او بې شمېره نور ستر عالمان لرل؛ خو اوس نشته؟
زه د یو نثر لیکولو لپاره کله هم ډېرو لرې خیالاتو او نالیدلې نړۍ ته نه یم تللې او نه مې هغه افسانوي دنیاوې خوښې دي. نه غواړم بحث بلې خوا ته بوځم، خو لنډ یې وایم، چې: همدا د خیالي نړۍ له امله مې د هالیووډ درګرده مشهور فلمونه؛ لکه: (اوتارز، اوینجرز او...) نه خوښیږي. زه هغه څه غواړم چې کم له کمه په یوې انساني ټولنې کې یې پیښېدل شوني وي.
تل د رومان، ناول، لنډې کیسې، هنري نثر، طنز، خاطرې او... لیکلو لپاره ځان، کور، شاوخوا، کورنۍ او سترګو لیدلو حالاتو څخه پیل کوم.
او دا فکر هغه مهال راولوېده چې کله مو په ۲۰۱۵م کال کې هېواد ته کډه راغله او ما د ناول لیکلو هوډ وکړ. څو ورځې حیران وم چې ځنګه او په کومه موضوع ورشم؟
نو اراده مې وکړه چې باید له خپله ځانه یې پیل کړم، لومړیو څو چټل نویس مخونو کې مې د ځان په اړه لیکل وکړل، ځنګه یم؟ کوم ښه او بد عادات لرم؟ څبره مې څه خوبۍ او بدۍ لرې/ لرلی شي؟ د خوښې وړ شیان، هنرونه، کسبونه، رنګونه، علمونه او... مې څه دي؟
له همدغه ځایه مې په لاشعوري توګه د یو ناول پیل کړی و، خو ما ته دا د ناول جوړښتي پړاو ښکارېده چې کیسې ته پکې خام مواد او کرکټرونه جوړیږي.
چې له دې پړاوه را ووتم نو د تره د زوی ښوونځی (یونیک) مې کیسې ته راکش کړ، هلته زه هم یو څه وخت ورغلی وم، ښځینه او نارینه ښوونکي او زده کوونکي سره یکې ګډ وو او ډېره عجیبه یې لا دا چې همدغو استاذانو او شاګردانو کې له مسلمانانو سره عیسویان هم په خوا ناست وو.
زه د کډوالو له پنډغالي راغلی یو عام کلیوال هلک وم، دا هر څه راته نوي و او کله چې یو څه نوي ووینو نو ادبیات پنځېدل پیل شي. زما لپاره د ادبیاتو یو تعریف هم دا دی چې هر څه په نوې بڼه او له نوښت سره بیانول/ لیکل ادبیات دي.
د ښوونځي له رومانتیک ماحول چې را ووتلم نو وطن، اړ دوړ، جګړې، پریشانۍ، جدا شوي یاران او د خپل پلرني ټاټوبي اغېز مې ناول ته نور مواد ورکړل چې بالاخره له یو هېنوونکي پای سره کیسه تمامه شوه. له دې وروسته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولۍ

مې ۳ نور ناولونه هم ولیکل خو چې څومره خوند مې له لومړي ناول اخیستی و، نورو رانکړ، حال دا چې په فني او تخلیقي لحاظ وروستي قوي وو؛ ځکه هلته لکه د لومړي ناول غونډې د کیسې پیل، غځولو او پای پسې سرګردانه شوی نه یم.

د ادیبانو د ګډ نظر پر اساس: د هرې لیکنې لپاره یوه سوژه یا موضوع ډېره مهمه ده. که یوه موضوع ونلرو، څنګه به لیکل کوو؟ ما بره وویل، چې: موږ هم په ځپل شویو هېوادونو کې شمار یو، دلته که لږ هم ځیر شو، زښتې ډېرې سوژې لرو. خو ځیرکتیا له کومه کیږي او ایا هره سوژه د لیکلو وړ ده؟

ځواب اسانه دی، ښه، ژوره او هر اړخیزه مطالعه، چې لویه برخه یې د کتابونو ترڅنګ په عام ژوند کې هم هسته لري؛ ځیرکتیا رابښي او همدغه ځیرکتیا رابښیي چې کومه سوژه د لیکلو وړ ده او کومه نه! موږ له دومره کیسو سره مخ کېدلی شو، چې ان رسیدګي به ورته ونشو کړای، خو په دې کې یې مهم والی، پیغام او برلاسي توب ته باید پام وکړو. وګورو چې اوسنیو حالاتو کې زموږ د ټولنې/ لوستونکو لپاره کومه سوژه تر کومې کچې مهمه او پیغام لرونکې ده؟! د کومې یوې سوژې په پوره روښانه کولو او وضاحت برلاسي یو، ښه مواد ورته برابرولی شو او په داسې انداز یې د وړاندې کولو وړتیا لرو چې خلک یې خسته کوونکې جملې و نه بولي؟!

کله چې له سوژې ټاکلو خلاص شو، نو اوس د لیکلو هنر او ژبې سره مخ یو. همدا زموږ اصل جنجال دی، ځکه یو عام انسان هم غوره سوژه ټاکلی شي، خو کله دا توان لري چې ښه یې وړاندې کړي؟!

موږ به دا وړتیا له کومه کړو؟

د دې لپاره باید چې کم له کمه ښه املا، په ګرامر او ژبې پوهه او د لغتونو بې پایه زخیره ولرو. چې دا څو شیان مو ولرل، نو د ښې لیکوالۍ یو بل پوړ مو هم په اسانۍ تېر کړ.

سمه املا لوستونکو ته زموږ پیغام ښه ور رسوي.

ګرامر او لیکنښې دا مهارت راکوي چې کومه جمله چیرته ختمه کړو، کومې لیکښنې چیرته وکارو او څنګه د جملو/ لغتونو له تکرار او نیمګړتیاو ځان خلاص کړو؟؟!

د لغتونو د بیا بیا استعمال مخنیوی په ژبو او لهجو کیږي، چې باید له بیلابیلو لهجو او ژبو سره بلدتیا ولرو. مثلاً: یو کس په لنډ پراګراف کې درې وارې د شیانو بېلګې یادوي، ښه ده چې یو ځل (لکه) بیا (بېلګه) او وروسته (مثال/ مثلاً) ولیکي.

بره په دریو واړو حالتونو کې یو ډول معنا ولېږدول شوه، مګر که مسلسل مو (مثال، مثال، مثال) لیکلي واي، پوهېږئ څومره به یې لوستونکی ستړی کړی وای؟! امکان دې ولري چې په همدې ځای یې زموږ لیکنه نیمګړې پریښې وای، ځکه هر څه زغمل کېدلی شي، خو واضحې غلطۍ نه او زموږ د لوستونکو فکرونه هم تر ډېره د لیکوال نیمګړتیاو پسې ګرځي.

جمله بندي او ژب پوهنه دا را زده کوي چې څنګه خپلو کرښو، پراګرافونو، متنونو او کیسو ته د پای ټکی کیږدو، چې لوستونکو ته غیرمعقول او بې منطقه نه وي، په پای خوښ وبریښي او پیغام په واضحه توګه واخلي.

د ناول لیکل او تجربې

د نثر لیکلو هنر او ژبه مو هم زده کړل، پاتې څه شول؟ پاتې د ناول لیکنې په اړه زما شخصې تجربې شوې، چې باید درسره شریکې یې کړم:

۱ـ زه یو عجیب کرکټره انسان یم، په یو سطحه او ګراف روان ژوند مې نه خوښیږي، تل له سختیو، اسانیو، هوارو، لوړو او ژورو را تېر ژوند خوښوم. عجیب عجیب تصورات، خیالات او خواهشات لرم، پریمانه مطالعه کوم، بې شمېره فلمونه ګورم، د خلکو، ملګرو او خپلوانو د ژوندو او خیالاتو کیسې اورم او ژوند ته له سنجیده، ډرامایي، دروغجن، حقیقي او بل هر اړخه ګورم، همدا لامل دی چې کله هم د ناول لپاره د کیسو او سوژو له کمښت سره مخ شوی نه یم.

۲ـ له ناول لیکنې وړاندې ټول پلاټ جوړوم، چې د ټول ناول نچوړ وي. سوژه، کوچنۍ او لویې لانجې، غوټې، د غوټو خلاصولو ځایونه، کرکټرونه، د کرکټرونو نومونه، ځانګړنې، عمرونه، زده کړې، سیمې، د سیمو جغرافیوي، تاریخي، ټولنیز، ژبني، طبیعي او... اړخونه او ښکلاوې پکې ځای پرځای کوم.

۳ـ ناول ته تل یوه لویه کیسه د عمومي او مرکزي سوژې په توګه ټاکم، خو پلاټ ته یې د څنګزنو پیغامونو په خاطر همېشه څو نورې لنډې او نیمګړې کیسې هم ور اچوم، چې د ناول لانجې، غوټې تلوسه او زړه راښکون ورسره زیات شي او پای کې دا ټولې کیسې لویې سوژې ته د ور رسېدو زینې شي. دا چاره د اردو ژبې په ناولونو کې بیخي ډېره او روښانه ده.

۴ـ د پښتو ناولونو برعکس د ناول کرکټرونه ډېر نه ډرامایي کوم، د ژورو احساساتو بیان ته په اوښکو لوند ګرېوان نه راوړم، بلکې داسې الفاظ ګورم چې هغه خپله د لوستونکي ګریوان لوند کړي. کله مې هم د دوو مینو په جدایي کې د اسمان اوښکې (باران) نه دي بهولې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۵ـ د ناول لپاره وړاندې له وړاندې ځينې محاورې ليکم، يا له هغو محاورو کار اخلم چې يو وخت مې هسې د ساعتيرې او زړه تنګون ختمولو په خاطر ليکلې وې. دا محاورې ځينې وخت هغه هم وي چې انټرنيټ کې مې د بعضو موضوعاتو په اړه نيږدې ملګرو سره کړې وي.
۶ـ ناول کې تکراري الفاظ نه راوړم، په مترادفو لغتونو يې سوچ کوم، ان که پردۍ ژبه کې هم وي. شرط دا دی چې بيخي نامانوس او نا اورېدل شوی نه وي. که يو ځای دنيا ليکم، بل وار يې نړۍ وليکم.
۷ـ بره مې د کليشې خبره کړې، بيا يادونه يې بښه نه ده؛ خو لنډ يې وايم چې کله هم د کومې صحنې انځورولو او ليکلو لپاره له کليشه يي طريقو او سبکونو څخه کار نه اخلم؛ بلکې هڅه کوم چې خپل داستاني سبک ولرم او د ژوند تر پايه يې وپالم.
۸ـ ما ليدلي چې د پښتو او نورو ګاونډيو ژبو په ګڼو ناولونو کې له يو تن څخه بيخي اتل جوړ کړي او نور ورته له هرې ښېګڼې خلاص کړي، دا کله عقل مني؟ ليکوالان ممکن هڅه کوي چې په دې توګه د خپلو داستانونو له کرکټرونو سره د خلکو خواخوږي پيدا کړي، خو دا فکر يې فقط سطحي لوستونکو پورې محدود ښه دی، له اهل ذوقو او اهل فن خلکو سره به څه کوي؟ ولې لږ او ډېر واقعيت منونکي نشو؟ مثلاً: په (يوه خبره درته وکم) ناول کې مرحوم احمدي مرکزي کرکټر څخه د کوه قاف شهزاده نه دی جوړ کړی، بلکې خلک يې د هغه له پوزې او رنګ پورې خندولي، خو معنوي حيثيت يې په داسې انداز ورکړی، چې لوستونکي يې هم مني او دې ته رضا کيږي چې هوکې د ناول نجلۍ بايد پرې مئينه شي. زه په همدې مذهب يم، د يو داستان له اتله د جنوبي هند د فلمونو هېرو مه جوړوئ چې په يو سوک ۱۰ کسان وغورځوي، يا په قدم ايښودلو سره يې باد و باران راشي. يا ترې د هاليوډ ټام کروز مه جوړوئ چې هم الوتکه والوځوي، هم موټر او موټرسايکل وځغلوي، لامبو يې زده وي، منډه وهل يې بې مثاله، ښکلا يې لا فاني او د خبرو انداز يې سحر کوونکی وي. د خدای روی ومنئ او لږ را ښه شئ! د کيسو اتلان هم زموږ غوندې عام غوندې خلک کړئ، بس يوه نيمه ښېګڼه يې که درنه زورووره شي، ښه به وي.
۹ـ يوه بله خبره چې ښايي تاسې ته خندونکې وي، بايد زياته کړم، چې: زه زياتره وخت د ناول منفي او دوستانه کرکټرونو ته د خپلو حقيقي ملګرو او خپلوانو نومونه او ځانګړنې ټاکم. همدا لامل وي چې هغوی داسې انځوريز کړم، چې لوستونکي يې واقعي وبولي. يو وخت مې په خپل ناول کې د يوازينۍ حقيقي ترور کيسه انځوروله، هغه مې په ورنې کې د بل چا په نوم کړه، بيا مې د خاوند ظلمونه او د دې بې وسې انځور کړه او په همدې کرکټر مې نوم (مور) کېښود، چې پای ته مې رساوه، پام مې شو چې غاړې مې کيناستلې او سترګې مې اوښلنې دې. زما د ليکلو پر مهال تل پام وي چې له هيڅ کرکټر سره زياتی ونکړم، ټولو کرکټرونو ته يې حق ورکړم؛ بالکل لکه يو ژوندي انسان ته چې حق ورکول کيږي.
۱۰ـ د صحنو او جغرافيوي ټوټو په انځورولو کې مې تل يو حقيقي ځای په نظر کې نيولی وي. د خبرې مطلب دا چې: لومړي ناول کې مې پېښور، ننګرهار، کابل او لوګر ولايتونو کې هغه ځايونه ښودلي و چې ما پکې ژوند کړی و، هر څه يې را معلوم و، له نړيدلي دېواله تر شنو کروندو، په هغو کروندو کې تر کرل شويو بوټو او کښتونو پورې. په نورو ۳ ناولونو کې مې همدا ميتود کارولی چې تر دې دمه يې چا د ناکامي نه دي راته ويلي.
۱۱ـ کوښښ نه کوم چې ناول ژر ژر وليکم، په څو اونيو او مياشت دوو کې کار ور ختم کړم، هر ناول په يو کال کې ليکم، هڅه مې وي چې بايد شاهکار وليکم، خو چې د بيا کتنو وار شي، نو پوه شم چې لا تر هغه شاهکاره نه يم رسېدلی چې زه يې غواړم، ځکه خو په ناول پسې ناول او په کيسې پسې کيسې وليکم، چې همدا تنده مې ګوندې يوه ورځ خپل هدف ته ورسوي؛ خو وېرېږم چې له هغې وروسته ليکوالي پرېښږدم؛ ځکه زه په دې اند يم چې يو ليکوال ته کله خپل اثر شاهکار ښکاره شو، نو په هغه کې ليکل اوج او ليکوالي مرګ ته ورسېږه.
۱۲ـ ناول چې پوره کړم، له دوو ورځو دمې وروسته يې بيا ګورم او ټولې املايي سهوې ور سموم. پوره دوه، يا درې مياشتې وروسته مې ناول له سره بيا ګورم او دا ځل يې په کيسې، پلاټ، کرکټرونو، محاورو او ټول جوړښت غور کوم، چې حتماً پکې کمی او زياتی راځي. له دې بيا کتنې يوه اونۍ وروسته دريم ځل ورشم او اخيري غلطۍ هم ترې وباسم، چې ناول د تل لپاره بشپړ شي. بيا يې د چاپ، نشر او خپرولو هوس نه کوم.ب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ